Göteborgs Stad

# مهم معلومات تاسی ته چې باید د خپل ماشوم لپاره د ۲۰۱۹ کال د منی د ښوونیځ فصل ښوونځی انتخاب کړی

**که ستاسی ماشوم د خپل ابتدایی ښوونځی د څانګی آخرنی ټولګی ته ځی، باید د هغه دپاره د ۲۰۱۹ کال د منی ښوونیخ فصل لپاره ښوونځی انتخاب کړی. که تاسی مطمین نه یاست چی دا مسئله ستاسی د ماشوم لپاره څنګه ده تاسی دغه وب سایټ ته مراجعه وکړی او هلته ووینی چی دا بدلون د کومو شاګردانو او ښوونځیو دپاره صحت لری.**

## آیا حتمی ده چی ټول باید ښوونځی انتخاب کړی؟

کله چی زده کونکی د ښوونځی د یوی څانګی څخه بلی څانګی ته ځی، کمیون باید د هغو د ځای پر ځای کولو په هکله د ماشومانو د اولیاو هیلی ته هم پاملرنه وکړی. ټول زده کونکی حق لری چی دوی ته د هغه ښوونځی په څانګه کی ځای ورکړه شی چی کور ته ئی نږدی وی. د خپل ښوونځی آزادانه انتخاب دا امکان تاسی ته برابروی چی د ماشوم د ولی په توګه، تاسی هر ښوونځی چی د ښار په هر ځای کی وی انتخاب کړی تر څو چی ستاسی ماشوم هلته درس ولولی. تاسی کولای شی چی د کمیونی (سرکاری) ښوونځیو څخه دری مختلفی ښوونځی چی د ښار په هر ځای کی وی انتخاب کړی. همیشه داسی ده چی د ابتدایی ښوونځیو عمومی اداره (Grundskoleförvaltningen) کله چی د زده کونکو د داخلیدو کار شروع کوی، د ماشوم د ولی هیله د خپل کار مبداء کنی. که د یو ښوونځی لپاره د غوښتنی شمیره د هغه ښوونځی د ځایونو د تعداد په مقایسه ډیره وی، هغه وخت د ګوتنبرګ د ښاروالی د داخلیدو د مقرراتو څخه کار اخیستل کیږی.

که تاسی خپل غوښتنلیک و نه لیږی، پدی صورت کی ستاسی ماشوم ته په هغه ښوونځی کی چی د ماشوم کور ته نږدی وی ځای ورکول کیږی چی د آمادګی او دریم ټولګیو (F-3) دپاره د ښوونځی او کور فاصله تقریباً ۲ کیلومتره وی، د څلورم تر ښپږم (۴ – ۶) ټولګیو دپاره تقریباً ۴ کیلومتره وی او د اووم تر نهم (۷ - ۹) ټولګیو دپاره د ښوونځی او کور فاصله تقریباً ۸ کیلومتره وی.

## په کوم ډول کولای شو چی د ښوونځی دپاره غوښتنلیک ورکړو؟

تاسی باید د جنوری د ۱۵ نیټی څخه د فبروری تر ۱۵ نیټی پوری پدی وب سایټ کی غوښتنلیک ورکړی:

www.goteborg.se/valjaskola او هلته دغه عنوان ته ولاړ سی: Ansök till årskurs 1-9 (د ۱ - ۹ ټولګیو دپاره غوښتنلیک ورکړی). تاسی کولای شی چی په الکترونیکی ډول د غوښتنلیک ورکړی یا د فورمی په ذریعه. تاسی کولای شی چی پدغه وب سایټ کی ووینی چی کولای شی کومی ښوونځی انتخاب کړی او همدی ډول د ګوتنبرګ د ښاروالی په ښوونځیو کی د شاملیدو مقررات ولولی. دلته یواځی د کمیونی (سرکاری) ښوونځیو ته د شاملیدو د غوښتنی د فورمی او معلومات په هکله دی. که تاسی وغواړی چی د خصوصی ښوونځیو دپاره غوښتنلیک ورکړی، تاسی باید مستقیماً د هغه ښوونځی سره تماس ونیسی پدی خاطر چی دوی د ځان دپاره د غوښتنلیک د ورکولو بیلا بیل مراحل لری.

## کله خبر تر لاسه کوو چی زموږ ماشوم ته په کوم ښوونځی ځای ورکړه شوی دی؟

د کال پر ۱۳ هفته (د مارچ د میاښتی په آخر) کی د ابتدایی ښوونځیو عمومی اداره، ټولو ته د داخلیدو لیک لیږی. هغه وخت، تاسی د دغه لیک په وسیله خبریږی چی ستاسی ماشوم ته په کوم ښوونځی کی ځای ټاکل شوی دی. دا مهمه ده چی تاسی باید احوال ورکړی چی ستاسی ماشوم دا ټاکل شوی ځای غواړی. خو که داسی وی چی ستاسی ماشوم په کوم خصوصی ښوونځی کی شامل شوی وی یا د کوم بل کمیون په ښوونځی کی خپل درسونه شروع کړی، تاسی باید دا احوال د ابتدایی ښوونځیو عمومی اداری (Grundskoleförvaltningen) ته ورکړی.

## نور معلومات یا دغوښتنلیک په خاطر مرسته

که تاسی پوښتنی ولری یا د غوښتنلیک دپاره مرسته وغواړی، کولای شی چی د ابتدایی ښوونځیو عمومی اداری ته په ۰۳۱ - ۳۶۵ ۰۹ ۶۰ شمیره کی زنګ ووهی یا هم په دا پته ایمیل ولیږی: grundskola@grundskola.goteborg.se

تاسی کولای شی چی په همدی ډول د خپلی ښاری ناحیی د ښاریانو دفتر (Medborgarkontoret) ته رجوع وکړی یا د خپل ماشوم د ښوونځی د ښوونکی یا د مدیر سره خبری وکړی. د ښوونځی د انتخاب کولو دپاره اضافه معلومات پدغه وب سایټ کی موجود دی: www.goteborg.se/valjaskola